SHARIAT WEEKLY

شریعت

په اوونی کي دوه ځله خپریږی

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارگان

څلورم کال اوه څلویښتمه گڼه پرله پسي (۲۳۷) چهارشنبه د۱٤۲۰ه ق کال د ربیع الاول (۱٦) د۱۳۷۸ه ش کال د چنگاښ دمیاشتي(۹) د۱۹۹۹میلادي کال د جون (۳۰)

کار پاك کاري نهر بغراء در ولایت هلمند هشتاد فیصد انجام یافته است

در صورتیکه ظرفیت نهر بغراء اعاده گردد دهاقین از زرع تریاك دست خواهند کشید

کار شناس امریکایي ریچارد سکاد.

لشکرگاه : کار پاك کاري و اعمار مجدد آبرو هاي نهر بغراء در ولایت هلمند هشتاد فیصد انجام یافته است این نهر که سي و پنج هزار هکتار زمین را آبیاري مینماید از جمله تاسیسات عمده زراعتي کشور میباشد، ریچارد سکاد یك کارمند امریکایي که قبل از اشغال کمونیست ها در این وادي اجراي وظیفه نموده بود مي گوید : این کانال ۹٤ کیلو متر طول داشته و در طول بیست سال گذشته پاك کاري نگردیده بود ، هدف از پاك کاري این کانال کمك به دهاقین است زیرا در سابق دهاقین مذکور گندم و پنبه مي کاشتند و سالانه دو فصل میگرفتند حالا نسبت کمبود آب مجبور هستند تا به کشت تریاك رو آورند وي میگوید متیقن است در صورتیکه ظرفیت نهر بغراء اعاده گردد دهاقین از زرع تریاك دست خواهند کشید همچنان آقاي سکاد اظهار داشته که مردم محل و اداره حکومتي گفته است بیائید سیستم آبیاري را در منطقه احیاء کنیم که در این صورت مشکل زرع تریاك خود به خود حل خواهد شد. با توجه به اظهارات فوق یك کارمند خارجي که همه از حقایق نشئت گرفته سازمان ملل متحد و غیره مجامع بین المللي باید به دعوت امارت اسلامي افغانستان ص ٤

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ! تاسي! همدا (عدل) ډیرنږدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته.

(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

د عامي روغتیا وزارت او د W.H.O د اړونده څانگي د موافقي پر اساس :

د کابل ښار د ځاګانو د کلوریشن او د نري رنځ د ناروغۍ د مخنیوي په هکله لازم اقدامات تر سره کیږي

د جلال آباد او غزني د ښارونو د اوبو رسولو سیستم بیا جوړ او فعالیږي

د کندهار ښار د مامورینو د کارتي د اوبو رسولو شبکه به هم فعاله شي

د عامي روغتیا وزارت سرپرست محترم ملا محمد عباس اخند د نړیوال روغتیایي سازمان د ختیځې مدیترانې د حوزې د روغتیایي اوبو د برابرولو د څانگي له مسؤول سره د کتنې او خبرو په وخت کي د هیواد په مرکز او ځینو ولایتونو کي د څښاك روغتیایي اوبو د ځینو پروژو د بیا جوړوني په باره کي موافقي ته ورسیدل.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : په هغې کتنې کي چي پرون د عامي روغتیا وزارت د محترم سرپرست او د نړۍ د روغتیایي سازمان د ختیځې مدیترانې د حوزې د روغتیایي اوبو د برابرولو د څانگي د مسؤول ښاغلي داکتر صفر السام تر منځ وشوه د واړو خواوو د کابل ښار د څاگانو د کلوریشن د نري رنځ د ناروغي د خپریدو د مخنیوي د جلال اباد ښار د اوبو رسولو د سیستم د فعالولو د کندهار ښار د مامورینو د کارتي د اوبو رسولو د شبکي د فعالولو او د غزني ښار د اوبو رسولو د سیستم د بیا جوړوني او فعالولو په باره کي خبري اتري وکړې او په نتیجه کي دواړه لوري موافقي ته ورسیدل چي ددغو پروژو د بیا جوړوني او فعالولو په لاره کي هر اړخیزه همکاري وکړي.

په دي کتنه کي د عامي ٤ مخ

فابریکه مرمر و رخام با داشتن هفده پایه ماشین مورد بهره برداري قرار دارد

فابریکه مرمر و رخام بعد از احیاي ... ظرف ۲٤ ساعت بیست متر مربع مرمر ... موزائیك سایز پنجاه در پنجاه و دو متر ... جغل را تولید و به نیازمندان عرضه مي نماید.

یك منبع مربوط در زمینه به خبرنگار ... اطلاعاتي باختر گفت : فابریکه ... سال ۱۳٤۷ در ساحه پنج هکتار زمین در منطقه پلچرخي کابل احداث گردیده است ... پایه ماشین هاي ساخت کشور ایتالیه ... بخش اساسي توسط یکصدو شانزده نفر ... فعالیت آغاز نمود اما از اثر حوادث ... تعمیر و ماشین آلات فابریکه ...

در مناطق تحت حاکمیت ملیشه ها :

فساد اخلاقي جاي تعلیم و تربیه را اشغال نموده است

چاریکار : قرار اظهارات مسافریني که اخیراً از شهر چاریکار دیدن نموده اند به شمول شهر چاریکار در اکثریت مناطق تحت حاکمیت ملیشه ها دروازه هاي علم و معارف بسته بوده و نسل نوین کشور در تاریکي جهل به سوي آینده تاریك شب و روز سپري مینمایند.

قرار گزارش در تمام شهر چاریکار که گاهگاهي گروه نظار و حواریون اش خیال اعلان به اصطلاح حکومت خویش را در آن بسر مي پرورانند به معني اصلي آن حتي یك مدرسه و یا مکتب هم وجود ندارد . جوانان و نوجوانان مجبور اند تا عوض فرا گرفتن علم و دانش ، تفنگ بر شانه نموده و جبراً در صفوف باغیان ایفاي وظیفه نمایند.

پوسته هاي نظامي و مراکز تجمع تفنگداران به مجامع مفسدات و بدکاریهاي مبدل گشته و هر فرد به مصیبت نوعي از اعتیاد به مواد نشه آور مبتلا میباشد، همچنان انحرافات اخلاقي، قمار و تماشاي فلم هاي ودیویي از مشاغل روزمره ملیشه ها گردیده است ، مردم محل خصوصاً آنهائیکه در باره آینده وطن و ص ٤

اختلاف مسعود و سیاف به اوج خود رسیده است

پشاور : قرار اطلاعات موثق از منابع نزدیك به استاد سیاف در کمپ هجرت کلي گفته مي شود که اختلافات مسعود و سیاف به اوج خود رسیده و اکنون کار به جایي رسیده که وساطت استاد رباني نیز کارگر نیفتاده است ، یکتن از اقارب استاد سیاف که اخیراً از جبل السراج به پشاور برگشته گفته است که به تعقیب گرفتاري چند تن از قوماندانان سیاف توسط مسعود و عدم آماده گي مسعود به رهایي بدون قید و شرط افراد مذکور ، آتش این اختلافات شعله ورگردیده است .

به گفته شاهد مذکور بي اعتمادي میان مسعود و سیاف زماني اوج گرفت که حامیان خارجي مسعود او را به حمایت از لویه جرگه اضطراري ظاهر شاه هدایت نموده و مسعود نیز آنرا راه نجات خویش پنداشته اما استاد سیاف به این موقف مسعود شدیداً مخالفت نموده و بر ضد اعلامیه مسعود مبني بر حمایت از پلان ظاهر شاه گروه سیاف اعلامیه یي را که حاوي مخالفت با ظاهر شاه بوده و طي آن ظاهر شاه ... اصلي فجایع و تباهي هاي ...

به تعقیب ازدیاد تشنج بین هند و پاکستان :

نواز شریف صدراعظم پاکستان سفرش را به چین نیمه تمام گذاشت

به تعقیب بالا گرفتن تشنج نظامي هند و پاکستان نواز شریف صدراعظم پاکستان سفر خود به چین را نیمه تمام گذاشته و به کشورش بازگشت .

طارق الطاف نطاق وزارت خارجه پاکستان علت این اقدام نواز شریف را اوضاع کنوني در خط کنترول کشمیر اعلام کرد ص ٤

د کابل ښار د ماستر پلان د تطبیق عملي کار پیل شویدي

شریعت : د کابل ښار د ماستر پلان د تطبیق عملي کار د ښار د مرکزي سیمي او د زاړه ښار په برخه کي ددغه پلان د تطبیق په پیل سره د عمل په ډگر کي د پلي کیدو جوگه شو، په دي هکله یوه اړوند خبر ځای وویل : دغه ماستر پلان د محمد داود خان د واکداري په وخت کي جوړ شوي و خو د کمونیستي کودتا له امله ونه ځنډید اوس د اسلامي امارت تر سیوري لاندي د کابل ښاروالي د خپلو امکاناتو په چوکاټ کي د دغه پلان په تطبیق پیل وکړ په اوسني وخت کي د ښار د مرکزي سیمو او باغ علیمردان د سیمي هغه برخي چي عمومي سرك په کي راغلي خراب شوي ٤ مخ

مطبعه معارف دو باره احیاء و به بهره برداري سپرده شد

مطبعه معارف که طي جنگهاي دوران اداره انتلافي رباني خسارمند گردیده بود بالأثر توجه امارت اسلامي و مسؤولین وزارت معارف دو باره احیاء و دیروز طي محفلي به بهره برداري سپرده شد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : مطبعه معارف که در سال ۱۳۳۰ به منظور طبع کتب درسي طالب العلمان مدارس پایه گذاري گردیده با ٥۱ پایه ماشین هاي تولید و کمکي طباعتي که ظرفیت تولیدي آن در طول ص ٤

به سلسله مسابقات بایسکل راني :

تیم بایسکل راني کلپ میوند حایز مقام اول گردید

تیم بایسکل راني کلپ میوند در مسابقه بایسکل راني با پیمودن صد کیلو متر مسافت جایز مقام اول گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : جالب ترین مسابقه بایسکل راني که از جانب فدراسیون مربوط براي انتخاب تیم ملي و جوانان امروز در فاصله یك صد کیلو متر از ستدیوم ورزشي کابل الي کوتل تیره ولایت لوگر بین کلپ ها و تیم هاي مختلف بایسکل راني به راه انداخته شده بود تیم کلپ میوند خامه یافت.

خبر مي افزاید در این مسابقه دیدني و دلچسپ محمد اجمل، محمد فرید و ... کلپ میوند بالترتیب حایز مقام اول دوم و سوم گردیدند. در ختم این مسابقه جوایز و تحسین نامه ص ٤

د هیواد د لرغونو ودانیو د بیا رغوني په بهیر کي :

د لغمان په ولایت کي د سراج بڼ او سراج کلا د بیا ودانولو کار پیل شو

شریعت : د لغمان ولایت په مرکز کي هغه تاریخي شتمني چي یوه یې د سراج باغ او بل یې د سراج کلا ده تومسوي بڼ او کلا چي د هیواد په لرغونو اثارو کي راځي د امیر حبیب الله خان په زمانه کي د هغه لخوا جوړ شوي او د ژمي په موسم کي به یې خپل کور دلته راوسته .

د سراج باغ او د سراج کلا د ٤ مخ

پارسل هاي هموطنان عزیز ما، سفارت خانه ها و مؤسسات خارجي بطور مطمئن به خارج ارسال میگردد

شریعت : محترم ملا محمد صابر «امین» مدیر عمومي گمرك پست و پارسل راجع به فعالیت اداره مربوط خویش چنین معلومات ارائه نمودند : مدیریت عمومي گمرگ پست و پارسل در چوکات ریاست محترم عمومي گمرکات وزارت مالیه امارت اسلامي افغانستان که در مرکز محترم وزارت مخابرات مسکن گزین است ص ٤

د ترکیي د کردانو د کارگرانو د گوند مشر عبدالله اوجالان په اعدام محکوم شو

انقره : د ترکیي د ملي امنیت محکمي پرون د امر الي د ټاپو په زندان کي اوجالان هیواد ته د خیانت او د بیلتون غوښتني د دوو مواردو تورونو په باب مقصر وباله .

داوجالان مدافع وکیلانو پخوا اعلام کړي و چي د محکمي لخوا د اعدام د حکم د صادریدو په صورت کي به له محکمي نه د بیا نظر د کولو غوښتنه وکړي او قضیه به د بشر د حقوقو اروپایي محکمي ته وړاندي کړي .

په ترکیه کي د اعدام د هر حکم د عملي کولو په باب وروستي تصمیم د پارلمان لخوا نیول کیږي .

د محکمي د حکم له اعلام نه یوه شیبه مخکي اوجالان یو ځل بیا د کردانو او ترکانو تر منځ د سولي د ټینگښت غوښتنه وکړه په تیرو پنځلسو کلونو کي د ترکیي د پي کا کا گوند چي مشرتوب یې اوجالان په غاړه لري او ددغه هیواد د اردو تر منځ په وسله والو نښتو کي کابو دیرش زره تنه وژل شوېدي . د ترکیي دولت د کردانو د غچ اخیستونکو بریدونو د کیدو د احتمال په خاطر د بهرنیو هیوادونو په سفارتونو هوایي ډ گرونو او توریستي مرکزونو کي سخت امنیتي تدبیرونه نیولي دي.

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

هیواد ته د مهاجرینو راستنیدل د هغوی شرعي مکلفیت دي

پدي وروستیو کي نژدي پنځه سوه مهاجري کورني د هیواد د جنوب لویدیځو پولو له لاري له ایران څخه افغانستان ته راستانه شوي ددغو مهاجرو کورنیو راستنیدل په خپله ددي شاهد دي چي نور په هیواد کي د حاکم شرعي نظام له امله څوریدلي هیواد وال په بشپړه توگه له داړمن امنیت او نیکمرغه ژوند نه برخمن دي له همدي امله نه یواځي د هیواد له جنوب لویدیځو پولو څخه بلکي د هیوادا د ختیځې پولي (تورخم) له لاري هم په سلگونو تنه مهاجرین په ډیري ۲ مخ

څو قلمه لرغوني اثار له قاچاق وړونکو څخه تر لاسه شول

څو قلمه لرغوني ارزښتناك اثار چي د قاچاقو په ډول بهر ته لیږدول کیدل په دي وروستیو وختو کي د لغمان ولایت د امنیتي موظفینو لخوا د سرخکانو په سیمه کي تر لاسه شول او پرون د اطلاعاتو او کلتور وزارت د موزیمونو او د تاریخي ابداتو د ساتني عمومي ریاست ته وسپارل شول.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د موزیمونو او د تاریخي ابداتو د ساتني عمومي رئیس محترم مولوي نقیب الله احمد یار په دي باب د باختر د اطلاعاتي اژانس خبریال ته وویل په دغو ٤ مخ

مؤسسات هبیتات و همبستگي فعالیت شانرا در ولایت بامیان دو باره آغاز نمودند

با اعاده صلح در کشور مؤسسات هبیتات و همبستگي فعالیت دو باره خویشرا در ولایت بامیان آغاز نموده اند.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر بامیان خبر میدهد در ملاقاتي که محترم مولوي عبدالستار حقاني مسؤول نظامي ولایت بامیان با محترم انجنیر زکریا نماینده مؤسسه همبستگي و محترم انجنیر محمد افضل نماینده مؤسسه هبیتات بعمل آورد در رابطه به آغاز فعالیت دو باره این ص ٤

شریعت

دتاسیس کال	: ۱۳۷٤ هـ ش
	: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر	: عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال	: ملا اسد الله «حنیفي»
دبوي ګڼي بیه	: په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس	: (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
په پیښور کي	: دطالبانو نمایندګی تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۲۷
جاري حساب	: ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ	: دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخي

خوښي سره هر ورځ د هیواد ارامي غېزي ته راستنیږي .

زمونږ دغه مهاجر هیواد وال پدي باوري دي چي خپل وطن او خاوري ته په ورتګ سره هغوي د مهاجرت او جلا وطني له ټولو ستونزو ځخه په خلاصیدو سره دبوه آزاد، خپلواك او مطمئن ژوند څښتنان ګرځیدلاي شي.

ځکه دلته شرعي نظام نافذ دي او په اسلامي شرعي نظام کي د ټولو مسلمانانو ټولي مادي او معنوي نیکمرغي پرتي دي .

په هیواد کي د همدغه شرعي حاکمیت له پلي کیدو وروسته جلا وطنه مهاجر هیواد وال شرعاً مکلفیت لري چي نور د همدغه دیني او شرعي حاکمیت تر ځنګ ودریږي ځکه په هیواد کي د شرعي حاکمیت استقرار نور ددي په معنا دي چي له هیواد نه بهر اوسیدنه په دیني او شرعي لحاظ هجرت نه بلکي په سیاسي لحاظ د پناه اخستني په معنا تلقي کیداي شي.

په هر صورت د مهاجرینو دغه راستنیدنه پداسي مهال کي تر سره کیږي چي د هیواد د سولي او ارامي یو شمیر بدغوښتونکي پدي نارو سورو سردي چي په هیواد کي د دوي په اصطلاح د یوه پراخ بنسټه مرکزي حکومت د نشتوالي له امله د خلکو ورځني ژوند نا ارام دي او دوي اوس لګیا دي چي د خلکو د ژوند د ښه والي په منظور په روم، قبرص، ایران او ... کي خیالي طرحه شوي حکومت دلته حاکم کړي . که د سلیم عقل له مخي قضاوت وشي نو د هیواد په سلو کي په ۹٥ برخه د اسلامي امارت بشپړ حاکمیت او د هغه په اداري، سیاسي، او قضایي چارو پوره کنترول په خپله د اسلامي امارت په جامعیت او مرکزیت بهترین دلیل دي.

د اسلامي امارت مخالفین چي په پوځي او سیاسي ډګر کي له بشپړي ماتي سره مخامخ او د مسلمان ملت په منځ کي ئی خپل اعتبار له لاسه ورکړي پدغو ناکامو هلو ځلو سره غواړي چي د خپلو بهرنیو حامیانو په مرسته د هیواد په قضایاو کي ځان مطرح او دخیل وبولي.

خو افغان مجاهد ملت اوس پوره بیدار ملت دي هغوي د خپل ایماني بصیرت له مخي د خپل هیواد او ملت دښمنان او دوستان ښه پیژني. هغوي ته هغه څوك ښه معلوم دي چي دا ملت یي له دي ټولو ناورینونو او مشکلاتو سره مخامخ کړي او هغه څوك هم پیژني چي اوس بیا دغه کړیدلي مسلمان ملت د فساد او الحاد په دریاب کي لاهو کوي.

افغان مجاهد ملت د خپل ځان د نجات په منظور د اسلامي امارت په مشرتابه پوري اقتدا کړي اسلامي امارت هم د هغوي د سالم نجات او ژغورني په منظور لګیا دي له هغو لارو چارو کار واخلي چي ددي مظلوم رنځیدلي ملت ټولي دیني او دنیوي نیکمرغي او سوکالي پکي نښغتي وي.

نیستمن ولس بډاي واکمن

داؤد جنبش د بي بي سي په همیاني پروګرام کي د نړي د لسو ولس مشرانو د پانګي په اړه یو مطلب درلود دغه لس تنه د نړي وتلي شتمن او پانګوال سر مشران دي په بله وینا دوي د نړۍ له هغو مرو واکمنو ځخه دي چي نغده پانګه یي له پنځو زرو ملیونو دالرو تر دیر شو زرو ملیونو دالرو رسیږي .

له دغو لسو تنو څخه اته تنه د عربي هیوادونو سر مشران دي که څه هم مشهوره داسي ده چي مړه ګیډه پاړسي وایي خو اوس داسي ښکاري چي مړي ګیډي عربي، ته مخه کړي وي.

د نړۍ له لسو شتمنو سرمشرانو څخه ۸ تنه د اسلامي هیوادونو واکمن عرب دي ، دا چي ددغو واکمنو د رعیت څه حال دي له هغوي نه سعودي واکمن شاه فهد چي شخصي او نغده شتمني یي ۲۸ زره ملیونه دالره او په دغو لسو تنو کي دوهم مقام لري ده د رعیت اقتصادي حالت یي هم ښه دي تیل ښه پریمانه دي چي د سعودي عربستان د اقتصاد بنسټونه یي پاخه کړي دي، تیل په نړۍ کي د توري طلا په نامه یادیږي او توره طلا نن سبا له سرو زرو نه زیات ارزښت لري. دهمدغه توري طلا برکتاو پښتنو مزدورانو خو لي دي چي سعودي او د خلیج هیوادونه دومره پر مخ ولاړل چي په ډیرو اړخونو کي له اروپا او امریکا سره سیالي کولاي شي.

د پښتنو مزدورانو خپل کوروته ویجاړ دي خو دوي د نورو هیوادونو په اباديي او سمسورتیا کي خپلي ځواني لوګي کوي، څه موده مخکي له بي بي سي چا پوښتنه کړي وه

پټې پاڼې

شهرت ننګیال

داسي سیمه شته چي هلته بواځې نارینه اوسیږي په څواب کي یي وویل شول : د متحده اماراتو یوه سیمه «العین» داسي ده چي هلته یي کوره او مسافر پښتانه د مزدوري شپي تیروي، پدغه سیمه کي دغو پردیسو مسافرو دومره زور اخیستي چي که ویزه او اقامه هم ونه لري د پولیسو زور نه پري رسیږي.

ددغو شتمنو سرمشرانو لومړني مقام د بروني د واکمن دي، د حیراني ځاي دا دي چي د عراق جمهور رئیس صدام حسین په دغه کتار کي اتم مقام لري، دي شپږ زره ملیونه دالره نقده پانګه لري پر عراقیانو ملګرو ملتونو اقتصادي او تجارتي بندیزونه لګولي ، ددغو بندیزونو له امله په زرګونو عراقي ماشومان او بوډاګان د خوار ځواکۍ له امله مړه کیږي د دوي جنازي عراقیان پر اوږ وګرځوي او د امریکي او ملګرو ملتونو پر ضد شعارونه ور سره بدرګه کوي.

د یوه هیواد جمهور رئیس چي په ټوله نړۍ کي د لسو تنو د شتمنو او پانګه والو سرمشرانو په لیکه کي ځاي ولري رعیت یي ځرنګه له خوار ځواکي او درملونه له نشتوالي سره د مرګ په کومي کي ژوند ته اړ وي ؟

صدام حسین دومره شته او پانګه له کومه کړه ؟ هغه اولس چي ماشومان یي له خوار ځواکۍ له ژوند نه بي برخي کیږي واکمن یي د نړۍ د سرمایه دارو مشرانو په کتار کي ځرنګه ځاي موندلای شي ؟؟

عراقیان خو د امریکي او ملګرو ملتونو پر ضد د مرګ شعارونه ورکوي خو خپل مشر ته دومره نشي ویلي چي لدغو شپږ زرو ملیونو دالرو زره ملیونه دالره د عراقي ماشومانو په درملنه او خوراك ولګوي. دا خو په ځاي پریږده چي دا پوښتنه وکړي چي دغه پانګه له کومه د یوه شخص جیب ته ولویده . کله چي واکمن شتمن او ولس نیستمن شي هلته ټولنیز عدالت د خوب، خیال محال او جنون ښه غوره کړي.

زمونږ د ملت حالت هم دي ته ورته معلومیږي د پاکستان، ایران، منځني اسیا او د نړۍ د بانکونو بیلا بیل حسابونه، د پیښور، اسلام اباد، مري او نورو سیمو ماڼي او نړي ماډل موټري او د وطن ورانه وراني، فقر او غربت که د عراق مثال او مصداق نشي کیداي نو یو څه اړخ خو ورسره لګولي شي. عراق خو ښه دي یو دیکتاتور لري یواځې صدام حسین دي، او زامن یي، له زومانو خو ده په خپله ځان او عراقیان خلاص کړل زمونږ خو په درجنونو دي بیا د دوي زامن او زومان وروڼه او وریرونه ، راشه که یي ګوري ...

که ښاغلي جنبش لږ پلټنه او څیړنه وکړي ښایي ډیري پټي خزانې به تـوري هم رابر سیره شي او زمونږ ځیني ښاغلي به هم ددغو لسو تنو له شمیر سره ځانونه یو ځاي کړي .

استخبارات امارت اسلامي افغانستان
نمایشگر آرمان های شرعی ملت مجاهد ما

قسمت اول

تاریخ پرماجرا و طولاني که مردم افغانستان از آن در مسیر روزگار بوده که بدبختي ها و خسارات بي شماري را به بار آورده و هر آنچه در این جریان ضمیر انسانهاي شرافتمند و مؤمن را خدشه دار مینمود ، ظلم و استبداد اندیشه و عمل جبران ناپذیر مقامات جابر و حاکم خداناشناس دوران هاي در قطار و شمارش زمان بوده که نسل هاي بعدي این مظاهر پلید را چون ابر هاي تیره و سیاه در قلوب و ذهنیت هاي خویش حفظ و منحیث خاطرات غم انگیزي از خویشتن تبارز داده اند.

در تاریخ دوران ما وقتي صفحات اش ورق زده میشود خواهیم دید که این پاره ها جز سراسیمگي هاي عجولانه و خود کامگي ها و یکه تازي هایي بوده که عمدتاً از جانب طبقات حاکم و خود پسند نه مردم پسند تبارز یافته و پیوسته مسیري را که خود اراده ملت و رعیت در آن مضمر باشد به بیراهه و کج راه ها کشانیده شده سرنوشت ملت افغان زمین به یکباره گي دگرگون و از هم پاشیده شده است .

ما به این باوریم که هر دوره از تاریخ سیاسي و فرهنگي کشور به اساس روال جامعه مان رشد و نمو نموده و در پیکر خود همان ساختاري را احتوا نموده که بر وفق شرایط همان دوره و زمان شکل گرفته انعکاس و نتایج حاصله از آن نمادي یك جانبي و بیرنگي ي را در امتداد مسیر و حرکت بصورت آرام آرام و گاهي تند و خشن پیموده است. این پدیده هاي منفي و گاهي هم قابل توجه را چه میتوان تصور کرد مباني یا عوامل اساسي آنرا در کجا و از کدام بخش میتود ولوجي جامعه شناسي و کهن شناسي سیاست و حکومت دانست .

در این مقطع موضوعات بحث بر انگیزي مطرح است که در نوشته ها و ابراز نظر هاي متعددي مطرح خواهیم کرد و آغازین آن طرح پیوسته گرایي و دگر اندیشي عمیق در قبال شناخت جامعه افغاني خواهد بود. که در خامه هذا از آن عجالتاً صرف نظر خواهیم کرد. بر خواهیم گشت بر آنچه عوامل و مباني آنرا نام نهادیم این عوامل و مباني نه تنها در جامعه مان بلکه در کلیه جوامع تاریخي منظور از عهد باستان تا کنون چه در حکومات و سلاله سالاري قبل از ظهور اسلام عزیز و بعد از آن بر گونه دستگاه هاي ویژه و منحصر به حاکمیت هاي معین با ساختار و تشکل هاي مختلف اهداف و نیاز هاي آنها را تعمیل و تحقق بخشیده و بر سکوي این مباني استمرار حاکمیت ها بوجود آمده و بدان منوال تاریخ حرکت و طي طریق این مباني را آنچه بود و هست بیطرفانه و صادقانه درج و نقش بسته است .

تیوري دولتي در بطن دولت نه تنها در واژه هاي کنوني دستگاه هاي امنیتي و استخباراتي معمول در یك نگاه قانونمند بوده بلکه در گذشته ها به مفاهیم و دستگاه هایي

نوشته : ن.ع

که مسیر و خط سیر حکام و سیستم حکومت داري ها و سایر موازین دولت ها را مشخص و از انهدام و متلاشي شدن این دولت ها به گونه، از اشکال جلوگیري نموده، در دفع مخاصمین و سرکوب قیام کننده گان و معترضین نقش اساسي را انجام میداد بدین معني که ضمیر در وجود دولت هاي این دستگاه ها بنام هاي ضبط احوالات

شعبات خبر رساني خاص سلاطین

دستگاه هاي امنیت سلطنت، و غیره و غیره وانمود شده و کلیه بخش هاي این ساختار ها مدافع کلي منافع به یك کلمه (صرف طبقات حاکم جامعه در رأس دولت هاي مربوطه) با آنها نقش خود را ایفا نموده است .

برگردیم به مختصر از مباني این دستگاه ها :

در قدیمترین اعصار تاریخي بخصوص در دوره هاي سزار ها و امپراتوري روم قدیم یونان انطاکیه، اندلس، فنیقیه اګیت(مصر قدیم) هسپانیه و بعد ها در دوران جنگهاي صلیبي ایران و ساسانین هخامنشیان و رومي ها در این دوران سیاستمداران مفکر و توانا در تن و اسپارت فقط تراوش هاي ذهني و سلیقوي و اهداف دور و نزدیك خود را به هر نوع و شکلیکه وجود داشت از طریق همین دستگاه هاي خبر رساني یا ضبط احوالات تحقق میپذیرفت این دستگاه از همان عصر تا کنون اسرار جنګي، مجریان و قضات و نماینده گان دولت و نخبگان دولت را از همه پدیده ها آثار و علایم معیشت و دیانت عوام و خواص مراقبت مینمودند تا به بیراهه نروند و نیفتند. تا (نعوذ بالله) خدایان منسوخ و متعدد شان به قهر نیایند و بلاي براي شان نازل نشود.

مصر بابل و ایران کارتاژ ها و دیگران صدران عهد و زمان با مفکوره ها و اندیشه هاي اداري و سیاسي، درك و دریافتند که در پرتو و شعاع و شبکه این چنین ساختار، دستگاه چه اهداف و خواسته ها را پي ریزي نمایند.

در سده هاي میانه قرون وسطي و اواخر قرن ۱۸ و ۱۹ میلادي این ساختار خبر ساني رشد و تکامل نموده و باعث نابودي قراء و مناطق گردیدند و گاهي هم شخصیت هاي آگاه را که دنیاي بشریت مرهون نظریات و افکار و اندیشه هاي بي بدیل آنها هست در این حیطه خطیر از میان برده اند و سلطه این دستگاه ها که در واقعیت خدمتگذار حکام و دولت هاي جابر جامعه بشري بوده از تار و پود اشخاص و متفکرین آغاز و تا نخبه ترین مظاهر و پدیده هاي فرهنگي و سیاسي جامعه در زیر چکمه هاي زهرآگین و بیرحم این دستگاه ها خورد و خمیر شده اند.

ادامه دارد

پټ راز

بنادمن

هوا چناره! د ځنګلو او د ويالو چناره!

رښتيا! ته ډيره ښکلي او دنګه ځواني لري د ستا د ګوتو نري څوکي له باده سره ګډا ګاني کوي خو! د ستا نري او نازکي څني د سپوږمۍ له وړانګو سره پستي پستي او خوږي خوږي خندا ګاني .

رښتيا! ستا ښکلا او دنګه ځواني ډير لاروبان دېته مجبوروي چي څو شيبي ستا ننداره وکړي خواي دنګه چناره! ته ډير مغرور يي تل هسك سرګرځي چي د باد زور درياندي تير شي ملا کږوي خو سرنه ورته ټيټوي رښتيا تاته د سرټيټول کفر ښکاري نو اي چناره! له دي ټولو ستاينو سره سره ارمان لري او که دي هيلي ټولي پوره دي؟ خو يوه خبره ده هغه دا چي رښتيا به راته وايي .

چنار ډير هوښيار دي چنار په دي ښه پوهيږي چي زه د نيپال د بم درانه غږ حوروولي يم ځکه يي په پسته او تنکي ژبه لکه د دوه کلو ماشوم داسي خبري پيل کړي .

اوه! ګرانه! څو شيبي چوپ شو، له يوه ساړه اسويلي وروسته يي بيا په خبرو پيل وکړ ته ! هوا ته نه پوهيږي چي زه مور څومره نازولي رالوي کړم زما مور هره ورځ له خپلو وينو جوړي شيدي راکوي ، زه له آزادي هوا سره مينه لرم خو دا پوري وريځ نه ويني هغه مخامخ چي زموږ په خوارارواته ده ! يوه هغه زما له ارمانه خبره ده هر وخت چي ماته راورسيږي له سترګو پر پر اوښي توېوي.

هوا

رښتيا ته خبر يي چي يوه ميوه لرونکي ونه څوك په ډيره ولي ټول خلك په قهر شي او د ډيري په ويشترنکي سترګي (رابرګي کړي) او له دي به هم ښه خبر يي چي د ډيري په مرګ قصاص نشته يواځي ديت دي جرحه کونکي څخيزم دي . ته وګوره زما په څنګ کي زما ګران ملګري ولاړ ، همدغه د تن په لاندي برخه کي يي د تيري اري غاښي ويي چي تري لويدلي دي خو هيچا افسوس هم نه دي پري کړي د هر حرار قوم دا حال دي که هر څومره ښه ځواني او عبرت لري خو قاتل يي ظالم نه ګڼل کيږي نو اي ګرانه! زما ارمان بهرحله پوره واي چي موږ يو کيداي شواي دا چي زموږ يو کيدل د خوب ليدل دي زما ارمان هم تل پاتي دي اوه ګرانه! اوس پوه شوي چي زه څومره لوي ارمان لرم ؟؟؟

د ليلي بيابان

توحيد مل

تعهد مو کړي دا دي طالبان يو　　ګران وطنه ستا په سر باندي قربان يو

زموږ لاره د قرآن او حديث لاره　　مومنان يو ددي لاري لاروبان يو

بيګناه يي شهيدان کړ و پاکه خدايه!　　تورو خارو کي پراته تنکي ځوانان يو

په مرمو مو ټوټه ونه سوري شوي　　شريعت نافذه وو مسلمانان يو

مور او پلار ته مو سلام ملکو وايي　　غمجن نشي موږ ددښتي قربانيان يو

«توحيد مل» تل طالبانو لره وايم

د الحاد او کمونستو دښمنان يو

دل غمپرور

زرغونه «رحمتي»

مي کشم هر غم ګيتي بدل خسته ي خويش　　جز خودم نيست دګر دشمن دل هيچکسي

دل غمپروري دارم که نميرنجاند　　زير پا موري و بالاي سر خورد مګسي

ميزنم دفتر دل را ورقي مهر و وفا　　ميسرايم غزلي تازه با هر نفسي

غصه دور فلك مي کشد افسرده دلم　　غم پژمرده ګلاني چمن و خارو خسي

ميپرم بر سر ديوار فلك بي پرو بال

ميسرايم غزلي تازه با هر نفسي

د وطن خاوره

محمد امين مموزي

دا خاوره که نورو ته ارزانه ده　　ماته قيمتي ده، په ما ګرانه ده

روس باندي سودا کمونستانو کړه　　ما تري نه آزاده په ميړانه کړه

سترګي پري خوږي زړه مي روښانه ده　　ماته قيمتي ده په ما ګرانه ده

ټول ژوند مو روان په شريعت کړ خداي «ج»　　بيرته مو پر ځاي تللي عظمت کړ خداي «ج»

نوم مو اوچت شوي تر آسمانه ده　　ماته قيمتي ده په ما ګرانه ده

چا چي برغل کړي په افغان هيواد　　بيرته ندي تللي له دي خاوري ښاد

ګورو او مات وتلي يشبمانه ده　　ماته قيمتي ده په ما ګرانه ده

وايي ممورزي : غم په وار او وار　　سر مي له اسلام او له وطن نه ځار

دا مي کړي هوډ له خپل ايمانه ده

ماته قيمتي ده په ما ګرانه ده

د شعر او ادب

نعت شريف

مير عبدالرقيب «جهيد»

هالـه ي نور هدايت به سرم تابان شد
غره ي حد[۱] ربيع مولد آن جانان شد

رهبرو سرور و سالار جهان خلقت
شمسه ي بدر الدجي در همه جا افشان شد

آمده رحمت عالم رسول اسلام
قدوي جان و جهانم بر آن سلطان شد

هادي و مهدي بشر يکسره آن شاه رسل
تاج عزت ز وجودش سر هر انسان شد

نام محمودش محمد[ص] حامد[ص] و هم احمد[ص]
جلوه گر نام نکوش يکسره در قرآن شد

نور تابيد به جهان سيماي رخشنده ي او
کفرو شرك ګشت عدم مشعله ي ايمان

کرد توحيد خدا[ج] را ظهور داعي خير
خوش مبارك ز قدومش بنګر کيهان شد

حبذا مظهر مولودي آن اختر ما
امت عاصي «جهيد» در طلب غفران شد

«۱» حد در حروف ابجد عدد ۱۲ و اشاره است به دوازدهم ربيع الاول مولود ګرامي پيامبر اسلام «ص»

که غواړي چي :

داکټر محمد نذير «احمدزي»

۱- له ساه لنډي څخه خوندي پاتي شي
۲- د بويولو (شامي) حس مو کمزوري نشي .
۳- د هرشي په خوند ښه پوه شي.
٤- پيسي مو بي ځايه مصرف نشي
٥- بي وخته خوب درباندي رانه شي
٦- تل د کار او مسؤليتونو د سرته رسولو توان ولري
۷- له تازه هوا څخه پوره ګټه واخلي
۸- خوله مو بد بويه نه وي
۹- د معدي له زخمونو او د هاضمي له خرابيدو څخه خوندي پاتي شي او د خولي خوند مو ښه وي
۱۰- د زړه له غشتوالي، د ويني له فشار ، د زړه د رګونو له تنګيدو او ناڅاپي مرګ سره مخامخ نشي .
۱۱- پوستکي مو تازه او ځوان پاتي شي
۱۲- جامي، کور او موټر مو نه سوځي
۱۳- سږي مو روغ وي او په تنفسي ناروغيو اخته نشي.
۱٤- په ډول ډول سرطانونو له اخته کيدو څخه په سلو کي پنځوس خوندي پاتي شي
۱٥- غاښونه مو ژيړ او چنجن نشي.
۱٦- او وريځ مو خرابي او د سترګو ديد مو زيانمن نشي
۱۷- ماشومان، ميرمن، خپلوان او د کار د چاپيريال ملګري درڅخه کرکه ونه کړي او هڅوي په ناروغيو اخته نه کړي .
۱۸- په هره اداره او موسسه کي کار ژر درته پيدا شي
۱۹- روغتيايي بيمي مو په ارزانه فيس غوښتوب ومني
۲۰- د معافيت سيستم مو ښه فعاليت وکړي ژر ژر په ميکروبي ناروغيو اخته نشي او ميکروبي ناروغي مو ژر تداوي شي.
۲۱- د ويني بهير مو په طبيعي ډول وچليږي او رګونه مو له کلکيدو ، تنګيدو، پراخيدو، ماتيدو او ځيريدو څخه وژغورل شي .
۲۲- د زړه په ټکان اخته نشي.
۲۳- په وينه کي مو د کاربن ډاي اکسايډ اندازه لوړه نشي
۲٤- ژر ژر ستړي او په قهر نه شي او حافظه موضعيفه نشي
۲٥ د پياده تګ، ځغاستي او لوړو ځايو ته د پورته کيدو توان مو له لاسه ورنه کړي .
۲٦- د ورزشي کلپونو غړيتوب تر لاسه کړي
۲۷- مياشتني مصارف مو لوړ وي
۲۸- وخت مو بي ځايه له لاسه ونه ځي
۲۹- ټولنيزي اړيکي مو ډيري وي او آشنايان مو کم نشي
۳۰- په چرسو ، ترياکو او نورو نيشو عادت نشي، نو!

سګرټ مه څکوئ !!!

د افغانستان د اقتصادي بيا رغاوني لاري چاري (۲)

يار محمد "همتوال"

استعماري سياستونه او د هغو اغيزه په اقتصاد باندي

په اوسني نړۍ کي د استعمار شکل تغيير خوړلي دي. استعمار اوس مستعمره هيوادونو ته عسکر نه ليږي ځکه چي له يوګخوا د عساکرو د ليږلو لوي مصرف د استعماري هيواد په اوږو باريږي او له بلي خوا انساني ضايعات ورکوي. نو په دي لحاظ استعماري هيوادونه د استعماري سياست د عملي کولو او هم د بيګانه مصارفو او نورو ضايعاتو د مخنيوي لپاره د عسکرو پر ځاي سرمايه چي د استعمار د اقتصادي سياست زير بنا ده بهرنيو ملکونو ته صادروي او له دي لاري څخه خپل ټول اهداف سرته رسوي.

استعماري حلقي د تر استعمار لاندي هيوادونو په زيرمو د ډيرو کمو امتيازاتو په ورکولو سره انحصاري قبضه لګوي او وروسته تر انحصار هر قيمت چي دوي ورباندي پدي مستعمره هيواد هغه ورسره مني او د دوي د خوښي مطابق معامله ورسره کوي.

چي ډير ښه مثال يي د افغانستان د خواجه ګوګردك او يتماق د ګاز ذخيري وي چي روسانو په ډيره ټيټه بيه له افغانستان څخه وړلي. د استعمار هدف اوس دا دي چي بايد د خامو موادو ډيري ارزانه منابع لاس ته راوړي او د خپلو پخو موادو لپاره په مستعمره هيوادونو کي په زړه پوري بازارونه پيدا کړي تر څو زياته ګټه تر لاسه کړي .

استعماري هيوادونه هڅه کوي چي د خپل تمدن د زرق و برق په ظلم باندي د پرمختګ په ځاي کي د هيوادونو لوستي قشر د غرب زده ګي په دام کي ښکيل کړي وروسته بيا دغه ښکيل شوي هر څه ، هر څه د غربي تمدن او غربي فکر په پيروي کي بولي او په خپل لاس د غلامي کړي پخپل غوږ کي اچوي.

د مثال په توګه که مونږ د خپل هيواد بازارونه تر خپلي مطالعي لاندي ونيسو وينو چي زمونږ تجارتي مارکيټونه ټول د داسي شيانو څخه ډك دي چي هغه يو هم د ورځني ژوند ملازمه نه دي د ساري په ډول که تاسي د کابل د ښار د مندوي په سيمه کي هغه تجارت ځايونو ته ورشي چي له هغه څخه دوکانداران مالونه را نيسي نو تاسي په دي تجارت ځايونو کي د پلاستيك ټانګکي د ماشومانو د لوبو شيان پکاني، شيشه يي مردکي (تشلي) ژولي د نوکانو رنګ د مخ پوډر عطريات، د سينګار سامانونه پست کارتونه، عکسونه، د موټرانو د پاره جوړ شوي پلاستيك نښليدونکي کاغذونه او په سلګونو قلمه غير ضروري شيان وويني چي زمونږ هيواد ته د ډيرو زياتو پيسو په مقابل کي راوړل شوي دي او په ملياردو افغاني د همدي خوشي او عيشو شيانو په راوړلو سره خرڅي شوي دي دا ډول تجارت د اقتصادي استعمار يوه مجربه نتيجه ده چي د داسي هيوادونو ماشومان او تنکي ځوانان ددي په ځاي چي علم او پوهه زده کړي، د هغوي وخت په داسي عيشو شيانو ضايع کړي چي هم پيسي

ځني واخلي او هم يي د ژوند او کار قيمت بها وخت په عيشو شيانو ورتلف کړي .

که ددي تر څنګ تاسو د کابل په ټول ښار کي چي د مملکت پايتخت او د تجارت مرکز دي وګرځي تاسو به داسي تجارت ځاي پيدا نکړي چي هلته دي تراکتورونه د اوبو را ايستلو او د نورو لاسي صنايعو ماشينونه خرڅيږي چي له هغه څخه د وطن په ابادي کي کار واخستل شي، بر عکس د راديو کست مغازي به په هر ځاي کي به زيات شمير پيدا کړي چي هلته رنګارنګ راديو کستونه د هغو له مليونونو قيمتو سره موجود دي دا ساده مثال مي ځکه راوړي چي داشي دهيواد ډيرو ليري کليو او بانډو ته هم رسيدلي دي حال دا چي د هيواد په مليونو هکتاره هواري ځمکي بي اوبو پاتي دي چي په ډير کم مصرف سره آبا دېدلاي شي . خو که ددي تر څنګ د لوکس شيانو تجارت ته پام واړو و د ورځي په لس ګونو تيزرفتار موټرونه چي ډير لوکس او پيشرفته موډلو نه لري د افغانستان سرحدونو ته را داخليږي او د رخت باب دوکانونو کي د ضرورت څخه زيات لوکس او قيمت بها ټوکران چي ډيري ډيري پرانه دي داسي مملکت ته چي هغه د ژوند لومړنيو ارتياوو شيانو ته زيښت ډير ضرورت لري ددغه شان لوکسو شيانو راوړل د حيرانتيا خبره او د اقتصادي استعمار بله نتيجه ده

چي د تر استعمار لاندي هيوادونو خلك د مود او فيشن مسابقو ته هڅوي او د تجمل خواته يي بيايي تر څو خپل بيکاره او تجملي شيان په دوي خرڅ او د دوي قيمت بها منابع او د زحمت محصولات په ډيره ارزانه بيه ځني تر لاسه کړي .

دا هغه د استثمار ډير نوي او مدرن شکل دي چي خلك يي په خپله خوښه په ځان عملي کوي. ځکه که مونږ ددي غير ضروري او صرفاً استهلاکي شيانو قيمت د خپلو طبعي منابعو او د کار له محصولاتو سره پرتله کړو نو وبه ګورو چي مونږ خپلي ډيري طبيعي اقتصادي منابع او د زرګونو زرګونو کروندګرو مالدارانو او کسبه کارانو د کار محصول همي خوشي د ژاولو، پوکانو، مردکو(تشلو) پلاستيکي لوبو او ټانګکو او داسي نورو غير ضروري او تجملي شيانو په مقابل کي بي ګټي له لاسه ورکړي او په مقابل کي مو د ژوند د ضرورياتو څخه هيڅ هم نه دي تر لاسه کړي. او خالي لاس پاته شوي يو اوس چي په افغانستان کي الحمد لله اسلامي نظام حاکم دي ددغه شان استعماري سياستونو مخنيوي ته کلکه پاملرنه په کار ده تر څو زمونږ ملي اقتصاد، د بې ضرورته شيانو په را وړلو سره نور زيات زيانمن نشي او د تبذير چي خپله د اسلامي اصولو مخالف کار دي مخه ونيول شي

د کابل ښار د ...

روغتيا وزارت محترم سرپرست ددغو پروژو د بيا جوړوني په کار کي د نړي د روغتيايي سازمان د ختيځي مديتراني د حوزي د روغتيايي اوبو د برابرولو د ځانګي د مسؤول د تيـــاري له امله قدرداني وکړه .

موسسات هبيتات و ...

موسسات در ولايت باميان بحث بعمل آمده مسؤول نظامي ولايت باميان از فضاي آرام و مطمئن در ولايت باميـــان اطمينان داده نماينده گان موسسات هبيتات و همبستگي نيز آماده گي عام و تام شانرا در امر کمك رساني به مردم و فعاليت دو باره شان در ولايت باميان ابراز داشتند و جانب امارت اسلامي در امر تسريع فعاليت هاي آنان ابراز همکاري نمود .

ګو قلعه لرغوني ...

اثارو کي د کوشانيانو د دوري او د اسلامي دوري سل ډول ډول سکي د ګريکر باختر د دوري او د کوشانيانو د دوري هنري اثار او بو شمير اتنو ګرافيك اثار او ډول ډول ګاڼي شته چي په دي ورروستيو وختو کي بهر ته د قاچاقـو په ډول د ليږدوني په وخت کي د لغمان ولايت د امنيتي موظفينو لخوا د سرخکانو په سيمه کي کشف او له عاملينو سره بي ونيول شول.

دغــه اثار د ساتني په مــقــصــد د اطلاعاتو او کلتور وزارت د موزيمونو او د تاريخي ابداتو د ساتني عمومي رياست ته وسپارل شول.

فابریکه مرمر و رخام ...

- مند گرديده و وسايط آن به يغما برده شد كه خساره وارده آن معادل صد ها مليون افغاني ميشود.

منبع افزود: تنها به ارزش صد مليون ماشين آلات اين فابريکه در رژيم گذشته از بين رفته است که خوشبختانه بعد از تامين امنيت و استقرار امارت اسلامي از اثر توجه مســـؤولين امور وسعي و تلاش بي دريغ منســـوبين آن فابريکه و با بکار انداختن يکهزار و يکصد و پنجاه مليون افغاني سرمايه دو بخش اساسي آن که شامل مرمر موزائيك ماشين چار اره الماسي و دو پايه ماشين سنگ شکن که مجموعاً شامل هفده پايه ماشين ميشود دو باره فعال و فعلاً با استفاده از ماشينهاي متذکره توسط سي و يك نفر کارگر در ظرف ۲٤ ساعت ۲۰ متر مربع مرمر سي قالب موزائيك سايز پنجاه در پنجاه و دو متر مکعب جغل توليد ميگردد.

در نظر است در آينده ماشين توليد خشت ترسو را که بخش عمده و اساسي فابريکه را تشکيل ميدهد و در طي ۲٤ ساعت ظرفيت توليد يکهزار و پنجاه عدد خشت ترسو را با سايز سي در سي دارد فعال خواهد گرديد.

خبر علاوه مي نمايد که محترم مولوي احمد جان سرپرست وزارت معادن و صنايع ديروز از جريان باز سازي و فعاليت دو باره بخشهاي فابريکه متذکره ديدن نموده ضمن قدرداني از فعاليت منسوبين فابريکه وعده هر نوع همکاري راد ر جهت رفع مشکلات آنها دادند .

پیښي او پرمختګونه — حادثات و انکشافات

فشار هاي داخلي بر رئيس جمهور يوگوسلاويا افزايش يافته است

فشار بر رئيس جمهور يوگوسلاويا سلو بودان ميلوسوويچ در داخل آنکشور افزايش يافته است .

پس از کليساي ارتدکس صربستان و روشنفکران اتحاديه آزاد سنديکا صربستان نيز خواستار استعفا سلوبودان ميلو سوويچ شده است .

اتحاديه سنديکا ها جزوي سازماني موسوم به اتحاد براي نوسازي است که طرفداران خود را به راه اندازي تظاهرات در شهر چاچاك فرا خوانده است

راه براي خلع سلاح عمومي در کوسووا هموار شد

ارتش آزادي بخش کوسووا با قبول يکي از درخواست هاي مهم نيرو هاي حافظ صلح بين المللي در ايالت کوسووا راه را تا اندازه زياد براي خلع سلاح همه نيرو هاي مسلح کوسووا هموار نموده است .

نطاق نيرو هاي حافظ صلح بين المللي در پرستينيا اعلام کرد که ارتش آزادي بخش کوسووا رزمنده گان خود را در ناحيه يي که با نيرو هاي حافظ صلح قرار گذاشته بود مستقر کرده است به اين ترتيب چنين به نظر ميرسد که کار ها طبق پلان پيش ميرود.

ارتش آزادي بخش کوسووا در هفته گذشته متعهد شده بود که افراد خود را در مناطق مشخص متمرکز و سلاح خود را در چند مرحله تحويل نيرو هاي حافظ صلح ميکند.

سر از امروز پوشيدن يونيفورم ارتش آزادي بخش کوسووا و حمل نشان هاي نظامي آن سازمان در خارج از مناطق تعين شده ممنوع است .

مذاکرات بين احزاب سياسي اسرائيل به ناکامي انجاميد

در اسرائيل مذاکرات ائتلاف بين حزب کارگر آنکشور به رهبري ايهود بارك صدرعظم منتخب اسرائيل با حزب ليکود که تا کنون حکومت را در آنکشور بدست داشت به شکست انجاميد.

طبق گزارشهاي واصله از بيت المقدس نقاط اصلي مورد اختلاف يکي سياست شهرك سازي دولت و ديگري امکان عقب نشيني نيرو هاي ارتش اسرائيل از ارتفاعات جولان است احتمال ميرود که ايهود بارك مذاکراتي را با حزب متعصب مذهبي شاس آغاز کند.

ايهود بارك صدراعظم منتخب اسرائيل بايد کابينه خود را بتاريخ هشتم ماه آينده عيسوي به پارلمان آنکشور معرفي کند.

د راتلونکي المپيك د لګښت لږ برخه به ۵۰ مليونه دالره وي

د دوه زرم کال د المپيك د ټول لګښت يوه برخه به څه د پاسه پنځوس مليونه دالره وي.

د استراليا د سدني ورځپاڼي نن وليکل دغه بودجه به د سرويس د دري زره دري سوه پنځوسو دستګاوو د کرايي او د څلور زره پنځو تنو چلوونکو د استخدام او د څلورو اور ګاډو د بيا جوړوني او پراختيا په لاره کي ولګيږي.

ورځپاڼي زياته کړه داً په داسي حال کي دي چي د المپيك د لوبو په بهير کي به بوازي د ټګ راټګ د ټکټ د پلورني له پلوه ان استراليا ته د دپارلسو مليونو دالرو عايد تر لاسه شي. دغه راز ورځپاڼي ليکلي دي چي ددغو لوبو لپاره د دولت ټول لګښت اوس يو مليارد او اوه سوه مليونو دالرو ته رسيږي . ورځپاڼي د لوبو مودي ته اشاره نده کړي .

پارسل هاي هموطنان ...

بومیه کار ارسال پارسل هاي هموطنان خويش را مطابق تعرفه گمرکي به وجه احسن اجرا و از طريق رياست پست مخابرات به خارج ارسال مينمايد و همچنان از خارج نيز پارسل هاي هموطنان و سفارت ها موسسات خارجي و ادارات امارت اسلامي را وارد و با در نظر داشت مقررات گمرکي طي مراحل و بدسترس شان قرار ميگيرد که از اين ناحيه يك مشت پول تحصيل و به حساب مربوطه آن انتقال ميگردد و در پهلوي آن وظايف را که انجام ميدهد ثبت جواز عدم محصولي و محصولي تاجر ملي که از طريق مستوفيت ولايت کابل مواصلت ميورزد نيز انجام ميدهد و قابل ياد آوري است پارسل هايي که از طرف هموطنان ما طور تحفه به خارج ارسال گردد اکثراً اجناس مذکور از جمله صنايع دستي بوده که ارسال آن به خارج کشور از افتخارات ملي کشور ما ميباشد و از جانب ديگر خوشبختانه از آغاز کار امارت اسلامي افغانستان پارسل هاي وارداتي و صادراتي که از طريق مديريت عمومي گمرك پست و پارسل ارسال و موصول ميگردد به طور مصؤن انتقال و به دسترس هموطنان ما قرار ميگيرد که باعث تشويق و اطمينان آنها نيز گرديده است .

د لغمان په ولايت ...

تيرو رژيمونو په جګړو کي په سلو کي اتيا ويجاړ شوي او هم د باغ سراج نيالګي اووني زياتره وچي شوي وي او همدارنګه د کلاي سراج تعمير او ماڼۍ هم رنګه شوي وه پدي وروستيو ورځو کي د اسلامي امارت د خاصي پام لرني له امله د سراج د کلا او باغ سراج د جوړيدو کار پيل شوي دي چي تقريباً د سراج په بڼ کي په لومـــړي قـــدم کي د دوو زرو شاوخوا وني بوټي د مختلفو ميو کيښنول شول البته د لغمان ولايت د زراعت د رياست لخوا نه او د بيا ودانولو چاري بي هم پر مخ رواني دي.

د کابل ښار د ...

او هغه کسانو ته چي د پلان د تطبيق له کبله بي کورونه له لاسه ورکړي د اسلامي امارت لخوا د ډير آباد په پروژه کي نمري ورکول کيږي همدارنګه د پل خشتي جومات ته مخامخ سرك هم بايد پراخ شي چي له دي کبله دي سيمي د کاندارانو ته هم د خپلو دکانونو د ټولولو ويل شوي دي هغوي ته اوس موقتي د کانونه ورکړل شوي او چي کله له پلان سره برابر وداني جوړي شوي نو په سر کي به دوي ته دکانونه ورکول کيږي .

په سلسله مسابقات ...

هاي ترتيب شده از سوي محترم مولوي محمد سرور حق پرست معاون ولايت لوگر به برنده گان توزيع گرديده و از ورزشکارانيکه در مسابقه اشتراك ورزيده بودند استقبال گرم بعمل آورده و از تلاش هاي آنان به نيکويي ياد آوري نمودند.

نواز شريف ...

نواز شريف صدراعظم پاکستان صبح روز گذشته وارد پيکنگ پايتخت چين شد و شب گذشته چند قرار داد همکاري را با چين در زمينه توليد مشترك طيارات جنگي موسوم به سوپر هفت و همکاري هاي مشترك تجارتي و فرهنگي امضاً کرد .

اطلاعيه رياست عمومي مواد نفتي و گاز مايع

رياست عمومي مواد نفتي تيل ديزل مورد ضرورت دواير امارتي را به قيمت في ليتر مبلغ ۷۵۰۰ افغاني بفروش ميرساند ادارات امارتي و موسسات خيريه ميتوانند تيل مورد نياز شانرا در مقابل پول نقد از ذخاير آنرياست واقع انحصارات اخذ نمايند.

اختلاف مسعود و ...

اخير کشور پنداشته شده بود صادر نموده است ، اکنون مسعود از اين رهگذر که مبادا استاد سياف و افرادش به امارت اسلامي افغانستان تسليم شود در هراس بوده بناًبالاي سياف و حاميانش هيچگونه اعتماد نمي نمايد گفته ميشود که در طول دو هفته اخير مسعود و سياف با هم روبرو نگرديده اند در حاليکه قبلاً روزانه يکمراتبه حتماً يکديگر را ملاقات مينمودند.

کار پاك کاري نهر ...

در رابطه به ايجاد سهولت هاي تخنيکي زراعتي، اقتصادي، تعليمي و صحي به مردم منطقه و تهيه آب وافر براي کشت و زراعت سالم لبيك گفته و از کمکهاي شان در اين رابطه دريغ نورزند.

فساد اخلاقي جاي ...

اولاد شان انديشه اي به دل دارند از ادامه چنين وضعيت خيلي به تنگ آمده و اکثراً همه مال و جايداد خويش را گذاشته فرار ميکنند ناگفته نبايد گذاشت که دشمني با علم و معرفت از جانب مليشه ها بخشي از تطبيق پلان هاي ضد اسلامي و ضد افغاني روسها است که ميخواهند با قطع سير ترقي و پيشرفت علم و معارف در افغانستان، مردم را بيکاره و مفت خوار عادت نموده و به آساني آنها را تطميع و در خدمت خويش قرار دهند.

مطبعه معارف دو باره ...

يکسال به تيراژ سه و نيم مليون جلد کتب درسي ميرسيد شروع به فعاليت نمود و بخش اعظم مشکلات مدارس و مؤسسات تعليمي و تربيتي را از نظر کمبود مواد درسي تامين مي نمود.

مطبعه معارف که چهل و هشت سال سابقه طباعتي داشت با آغاز جنگهاي دوران اداره أئتلافي رباني در کابل و موجوديت افراد مسلح غير مسؤول و مليشه ها در مطبعه بيش از يکهزار تن کاغذ پليت هاي المونيم و انواع پرزه جات فالتوي ماشين ها و ادويه جات کيمياوي که صد ها قلم را احتوا مي نمود از بين رفته و ساختمان تعمير مطبعه نيز به شدت خساره مند گرديده است که اين خسارات وارده به مليون ها و حتي مليارد ها افغاني ميرسد.

بعد از پيروزي امارت اسلامي و با توجه به ارزشمندي مشي فرهنگي اقدامات عاجل و ضروري جهت احياي دو باره اين مطبعه صورت گرفت که در گام نخست سيستم برق رساني و برج برق مطبعه با مصرف دو صدو پنجاه مليون افغاني دو باره فعال گرديد و متعاقب آن به همت کارکنان تخنيکي کار چك و پاك کاري ماشين ها آغاز گرديد که به تعداد سي و هشت پايه ماشين هاي کمکي و توليدي در شعبات طبع حروفي ، آفسيت ، کليشه سازي ، مانو تايپ، صحافي و پليت سازي با مواد و پرزه جات مستعمل و غيره امکانات دست داشته ترميم و مورد بهره برداري قرار گرفت .

در محفلي که به مناسبت آغاز کار مجدد **مطبعه ديروز ترتيب يافته بود محترم مولوي سعيد احمد «شهيد-خيل» معين وزارت معارف پيرامون نقش مبعه و ارزشمندي کارکنان آن در جهت توليد کتب درسي صحبت نموده بعداً محترم مولوي عبدالفتاح** ،عمري رئيس مطبعه معارف در رابطه به **چگونگي احياي دو باره مطبعه و مشکلات موجود روشني انداخته اظهار اميدواري نمود که فعاليت دو باره مطبعه بخش اعظم مشکلات مدارس و موسسات تعليمي و تربيتي** را در کشور مرفوع خواهد ساخت .

د ګډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$150

تبصره

مليشه ها در آستانه تجريد و فرار

با آنکه گروه مليشه هاي مخالف امارت اسلامي افغانستان به حمايت مالي، تسليحاتي و تبليغاتي حاميان اجنبي خويش، مردم مظلوم مناطق تحت حاکميت خويش را به آينده به اصطلاح تابناکي اميدوار ميسازند اما قرار اطلاعاتي که از آن مناطق بدست مي آيد چنين استنباط ميگردد که اهالي مؤمن و شريف محلات تحت استبداد مليشه ها از تشکيلات تام نهاد و تفنگداران مخالفين امارت اسلامي به جان آمده و از آن ها بيزار مي باشند، زيرا از يکطرف جنايات و غارتگري هاي مليشه ها در طول چند سال اخير و از جانب ديگر توسل مخالفين به آستانه روسها، هند و غيره دشمنان عقيدوي و ملي کشور ما، مردم مجاهد تحت حاکميت مسعود را به اين نتيجه قطعي رسانيده است که قرار گرفتن شان در کنار مليشه ها، يك جرم وخيانت ملي و اسلامي بوده و هر چه زود تر بايد بطور کامل اين پروسه و ارتباط قطع گردد.

عدم همکاري مردم محل ، فرار دسته جمعي افراد از صفوف مليشه ها و تسليمي متداوم تفنگداران مسعود به اردوي امارت اسلامي افغانستان اين حقيقت را قطعي ميسازد که مليشه ها اکنون در آستانه تجريد کامل قرار داشته و راهي جز فرار و يا تسليمي به امارت اسلامي افغانستان در پيش ندارند.

روابط و وابستگي هاي خارجي مسعود اکنون حالتي را به خود گرفته که مسلمانان مناطق تحت ظلم مليشه ها اکنون به هيچ عنوان و هيچ دليل آنرا پذيرفته نتوانسته و همه مردم به يك آواز اقدامات و روابط مسعود با خارجيان خصوصاً روسيه، هند، فرانسه و غيره کشور ها را همه و همه بر خلاف تقدسات ديني و آمال جهاد اسلامي ملت مجاهد افغان پنداشته و بيشتر از اين فريب تبليغات تعصب زاي مسعود و دارو دسته اش نخواهند گديد .

ايجاد توافقات اخير روسها با مسعود و در طي آن فرود آمدن متداوم هوا پيما هاي مملو از اسلحه و مهمات جنگي در ميدان هوايي بگرام، عبور و مرور کشتي هاي حامل اسلحه از درياي آمو ، گشت و گزار مشاورين روسي و هندي در نقاط ستراتيژيك و مهم گروه نظار، اعمار پايگاه نظامي اخير روسها در جوار سرحد افغانستان در تاجکستان افشاي توافق تحويل دو صد عراده جيپ روسي غرض تداوم جنگ در افغانستان و اخيراً غرق شدن کشتي حامل سلاح و مهمات مخالفين که از تاجکستان عازم بندر آي خانم در سرحدات ولايت تخار بود، يکسره شواهد و دلايلي است که مردم آزاده شمالي و تخار بدخشان را قانع ساخته است که مسعود و رباني اکنون چون کارمل و نجيب به جزء از لعبتان بي اختيار روسها و غيره دشمنان اسلام موجوداتي بيش نبوده و اين روسها و غيره همدستان شان اند که با مداخلات صريح و بيشرمانه شان بر آتش جنگ در افغانستان تيل پاشيده و خود شان از اين طريق انتقام شکست هاي پيشين خود و اجيران خلقي و پرچمي شانرا از ملت مجاهد افغان ميخواهند بگيرند و همين آقايان مسعود و رباني اند که به چنين مداخلات زمينه مساعد نموده اند.

بر علاوه عوامل فوق تفنگداران مسعود و غيره مليشه ها در اين اواخر به چنين جناياتي در مناطق تحت ظلم خويش دست مي زنند که زبان و قلم را از ياد آوري آن عار مي آيد سيستم هاي تعليم و تربيه، صنايع، پروژه هاي اقتصادي و انکشافي، احياي مجدد، زراعت و مالداري در آن مناطق کاملاً مسدود و ويران گرديده زيرا همه وسايل تاسيسات قبلي توسط مليشه ها به غارت برده شده و اکنون به جز از مخروبه ها چيزي باقي نمانده است ، مهمتر از همه بنا بر لجاجت و بي دانشي مليشه ها جان، مال و عزت مردم مظلوم مناطق شمالي تخار و بدخشان نيز در امن نبوده و هر لحظه براي هر فاميل بروز هر نوع حادثه اي دور از احتمال نيست!! بناءً هر فاميل و هر فرد از آنهائيکه حتي اندکي از علم و دانش برخوردار بوده و دست کم روزي را در سنگر جهاد عليه کمونيست ها و روسها سپري نموده از تحمل چنين اوضاع به تنگ آمده و در راه جستجوي چاره مي باشند با توجه به اوضاع نابه سامان و نا امن مناطق شمالي و تخار بدخشان و مظالم روز افزون مليشه ها احتمال خيلي قوي موجود است که عنقريب مردم خداپرست و شجاع آن مناطق دست به قيام هاي قهرمانانه بر عليه مليشه ها و حاکميت ظالمانه شان زده و براي هميش خود و ملت مجاهد افغان را از شرر آنها نجات خواهند داد ، در چنين يك حالت نابه سامان انشاء الله ضربات کوبنده اردوي امارت اسلامي افغانستان نيز عنقريب در انهدام آخرين لانه هاي ظلم و استبداد در کشور اقدام لازم نموده و هموطنان شريف خويش را از مصايب فعلي و عايده از جانب مليشه ها و بقاياي کمونيزم نجات خواهند بخشيد.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdul Rahim Saqeb,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press